جنت ستاسو څخه يو تن ته د هغه د بوټانو له تسمې څخه ډير نږدې دی او دوزخ هم همداسې دی

له ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: "جنت ستاسو څخه يو تن ته د هغه د بوټانو له تسمې څخه ډير نږدې دی او دوزخ هم همداسې دی".

[صحيح دی] [بخاري روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې جنت او دوزخ انسان ته دومره نږدې دي لکه د پښې پر څټ د بوټانو تسمې چې نږدې دي، ځکه چې کله هغه داسې يو عمل وکړي چې الله جل جلاله پرې خوښيږي، نو له امله يې جنت ته ځي او يا ګناه وکړي چې له امله يې دوزخ ته ځي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3581